دغه معلومات ځان سره وساته.

دغه معلومات خپل ډاکټر یا نرسی ته وښایه.

## دنري رنځ یا توبر کلوز په هکله معلومات اوددی ناروغۍ معاینات او چک کول

ولی ستاسی ته دغه معلومات درکړل شول؟

په فنلند کی دنري رنځ یا توبرکلوزیوه نادره ناروغي ده. دلته دښه مراقبت په اساس کابو له منځه تللی ده. ستاسی له داسی هیواد څخه دلته راغلي یاست، چی هلته د نري رنځ په ناروغۍ ډیر خلک اخته دی. کیدائ شی په خپل نږدی چاپیریال کی دغه ناروغي خپاره او خلک په دی ناروغۍ اخته کړئ بی له دینه چی ستاسی پوهه شئ. ستاسی دخپلی روغتیا لپاره، دخپلوانواو دنوروخلکو روغتیا لپاره دا ضروری ده، چی د نري رنځ یا توبرکلوز ناروغي تشخیص شی اوپه وخت سره یی درملنه وشی.

په فنلندکی ددی غوښتنه کیږی، چی دخارجیانو روغتیا اوصحت ته پاملرنه وشی. داځکه، چی ستاسی دلته ددرومیاشتونه زیاته موده تیروئ نو ستاسی حق لرئ، چی په وړیا توګه دسینی عکس یادسینی اکسری واخلئ. عکس اخستل اختیاری دی. په عکس کی لیدل کیږی، چی ستاسی په سږو یا تنفسی جهاز کی خوبه کوم دتوبرکلوز یا نري رنځ ناروغۍ تغیرات موجود نه وی.

**دسینی عکس اخستل**

دسږو توبرکلوزناروغي اکثره دسینی دعکس په اخیستو سره تشخیص کیږی. عکس اخستل امنیتی دی کوم خطر نلری. هغه ښځی چی اولاد یعنی حمل لری باید دعکس اخستوڅخه دمخه خبر ورکړی. هغه حمل لرونکی ښځی چی علایم ونلری ددوی دسینی عکس باید دحمل په وروستیومیاشتو کی واخستل شی.

دسینی عکس یا راډیوګرافی ستاسی داوسیدوښار په صحی مرکزکی اخستل کیږی. دسینی عکس اخستل ستاسی لپاره په وړیاد توګه ترسره کیږی . که چیری ستاسی دسینی په عکس کی کوم تغیرات ولیدل شی نو ستاسی سره بیا اړیکه نیول کیږی دنورو ضروری معایناتو ترسره کولو لپاره اووخت درته اخستل کیږی.

**دعکس اخستو لپاره دامکان په صورت کی بیره و کړئ.**

دغه معلومات د خپل صحی مرکز داکسری یا عکس اخستو/ نرسی ته ښکاره کړه

دصحی مرکزداکسری یا دعکس اخستو بخش داړیکو معلومات:

---

**دنري رنځ یا توبرکلوز ناروغي علایم څه ډول دی؟**

دسږو توبرکلوز ناروغي مهم علایم دوامداره ددرو اوونیونه زیات ټوخۍ ده، چی وروسته دوخت په تیریدو سره په بلغم اوړي. دټوخی په وخت کی زیړرنګ ته نږدی، یا سوررنګه او یا دوینی په رنګ بلغم لیدل کیږی اود توبرکلوز دناروغۍ دزیات انکشاف په صورت کی نفس تنګی او دسینی درد رامنځته کیږی.

دتوبرکلوز په ناروغي اخته کس کیدای شی تبه ولری، وزن یی کم شی او دشپی لخوانه زیاتی خولی کوی. دهغه اشتها ضعیفه کیږی اوروغتیایی خالت یی بد تر کیږی. اوعلایم یی نور هم کیدای شی ولی دا په دی پوری اړه لری، چی د بدن کوم غړي دتوبرکلوز په ناروغۍ اخته دئ.

په ماشومانوکی دتوبرکلوز ناروغۍ له امله دماشومانو وده او نمو وروکیږی.

**څه باید وکړئ که چیری اوس مهال او یا وروسته دتوبرکلوز په قسم علایم ولرئ.**

دځنډ نه پرته دخپل ښار له صحی مرکز سره اړیکی ونیسئ . اوډاکټر معاینات، لیدل اوچک کول ضروری دی. دډاکټر لیدل، معاینات او چک کول ستاسی لپاره په وړیا توګه ترسرخ کیږی . ستاسی د معایناتو معلومات د خارجیانو بخش مسولینوته نه ورکول کیږی.

**نري رنځ یا توبرکلوز څه شی ده؟**

نري رنځ یا توبرکلوز دهیچا یا نیمګړتیا اوقصورنه شی ګڼل کیدای . توبرکلوز یوه ساري ناروغي ده.دا ناروغی دیو میکروب پواسطه ،چی مایکو باکتیریم توبرکلوزس نومیږی رامنځته کیږی. په عمومی ډول په سږو کی لیدل کیږی، هلته التهابی شکل رامنځته کوی. وروسته باکتریی یا میکروبونه دوینی یا لنفاوی غدو پواسطه دبدن نورو غړوته سرایت کوی او د بدن نور غړی مصابوی لکه لنفاوی غدی، کلمی، پوستکۍ او مرکزی عصبی سیستم. دتوبرکلوز ناروغي کولای شی، چی په یوه وخت کی دناروغ په سږوهم او نوروغړوکی قرار ولری.

**دنري رنځ او توبرکلوز ناروغي څه ډول سرایت کوی؟**

دتوبرکلوزناروغي دهوا پواسطه دیوه انسان نه بل انسان ته انتقالیږی. توبرکلوز باکتریه یا میکروب هوا ته انتشار کوی، کله چی دسږو توبرکلوز ناروغ خبری کوی، سندری وایی، توخیږی یا پرنجیږی. پدغه وخت کی دده سره په یوه کوټه کی ناست خلک دتنفس له لاری دتوبرکلوز باکتریه تنفس کولوسره اخلی اوسږوته یی داخلیږی. په دی ډول هغه څوک چی دتوبرکلوز له ناروغ سره یی د اوږدی مودی لپاره استګونه کړی وی کیدای شی په دی ناروغۍ اخته شي. او په دی ناروغۍ داخته کیدو زیات خطر دناروغ خپلی کورنۍ غړوته دئ چی ده سره یی نږدی استوګنه کړی وی.

**دتوبرکلوز په ناروغۍ کوم خلک اخته کیدای شی؟**

دتوبرکلوزپه میکروب الوده کسانو څخه یوازې یوکس یی په لسوکی دتوبرکلوز په ناروغۍ اخته کیږی. دټولونه اسانه، چی په دی ناروغۍ اخته کیږی دپنځوکالونو څخه کم عمره ماشومان دی ، ځوانان، مشران او هغه خلک چی دبدن مقاومت یی ضعیفه وی په دغ ناروغی یی داخته امکان زیات دی.

**څومره زر دنري رنځ د میکرو الودګی په ناروغۍ باندی بدلیږی؟**

ماشومان، چی عمرونه یی دپنځو کالونوڅخه کم وی وکسین هم ورته نه وی ورکړل شوی کیدای شی په یوڅواونیوکی یا دیوی میاشتی په موده کی دالودګۍ نه په ناروغۍ اخته شی. لویان چی کومه بله اساسی ناروغی ونلری دیوه یا ددوکالونو په جریان کی دتوبرکلوز دالودګۍ نه دتوبرکلوز په ناروغۍ اخته کیدای شی. دتوبرکلوز دمیکروب د ککړویدو یاالودګۍ نه کیدای شی یو څوک دلسوکالونو ورسته په دغه ناروغۍ اخته شی. دنري رنځ یاتوبرکلوز علایم په یاد ولرئ.

**چیرته او څرنګه توبرکلوز چک اومعاینه کیږی؟**

دتوبرکلوز معاینات په خپلو صحی مرکزونو، دشاګردانو اویا دکار په صحی مرکزونوکی ترسره کیږی. دوامداره معاینات په روغتون کی ترسره کیږی. دماشومانو معاینات دماشومانو واټ یا په پولی کلینیک کی ترسره کیږی.غاټانو، لویانو دسږو توبرکلوز دسږو ناروغیو بخش کی یا پولی کلینیک کی ترسره کیږی. کله چی شک دسږو په توبرکلوز وی نو دسینی عکس اودبلغم معاینات رنګ اوکرلو پواسطه ترسره کیږی. ټوخی نه هم کولایشو دتوبرکلوزجین ښکاره کولولپاره عاجل ټیست ترسره کړو.

بعضی وخت کی ددی ضرورت پیداکیږی سږو پایپونو یا برنشونو ته پایپ تیر شی معاینات یی تر سره شی یا دسږو سی ټی سکن ترسره شی. کله چی دسږو توبرکلوزنه بغیر دبدن نورو غړو توبرکلوز معاینات ترسره کیږی نو د مختلف قسمه تصویری میتودونوڅخه کار اخستل کیږی. اضافه له دینه دژوندی ارګان څخه امساج اویا تازه لنده نمونه اخستل کیږی.

**دتوبرکلوز څه ډول درملنه کیږی؟**

توبرکلوز ددوا پواسطه تداوی کیږی. دوا په شروع کی اقلا څلور قسمه وی. دعادی توبرکلوز تداوی کم ازکم نیم کال نیسی. توبرکلوز هغه وخت ښه تداوی کیږی، چی په وخت سره یی تشخیص و شی اوپه وخت سره یی درملنه و شی. دتوبرکلوز درملنه په فنلند کی ښه او په وړیا توګه تر سره کیږی.

اضافه معلومات په لاندی انترنیټی پانه کی ولولئ

www.tuberkuloosi.fi